هفته نامه **معارف** اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنيزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۰۶) ماه صفرالمظفر ۱۴۴۷ هـ ق. مطابق ماه اسد ۱۴۰۴ هـ ش.


کتاب وسیله‌یی است
به سوی آینده بهتر

# د پوهنې وزارت سرپرست له لوري د کانکور آزموينې مخکښو زده کوونکي وستايل شول



د ۱۴۰۴ لمريز کال د کانکور آزموينې لس تنه مخکښ زده کوونکي او طالب العلمان د يو لړ مراسمو په ترڅ کې چې د پوهنې وزارت د محترم سرپرست سربېره په کې د ياد وزارت محترمو معينانو، د مقام د دفتر لوی رئيس، يو شمېر مرکزي رئيسانو او د زده کوونکو کورنيو ګډون درلود وستايل شول.

ياد مراسم د کابل ښار د پوهنې رئيس محترم قاري عبدالباسط «حقاني» له لوري د قرآن کريم د څو مبارکو آيتونو په تلاوت سره پيل شول.

د پوهنې وزارت سرپرست محترم الحاج مولوي حبيب الله آغا په دې مراسمو کې د خپلو خبرو په ترڅ کې د سږ کال کانکور آزموينې غوره زده‌کوونکو ته د مبارکۍ تر څنګ هغوی ته وويل: تاسو د هېواد د راتلونکي معماران ياست چې ټول ملت ستاسو صادقانه خدمت ته سترګې په لار دی؛ ترڅو خپل هېواد د پرمختګ په لوري سوق او بشپړ ځان بسياينې ته ورسوئ. هغه زياته کړه: دا اړينه ده چې تاسو د علم په ترلاسه کولو کې هڅې وکړئ او ځان د هېواد او ملت خدمت ته په صادقانه او بشپړ اخلاص سره چمتو کړئ".

د پوهنې وزارت محترم سرپرست همداراز وويل: پوهنې وزارت ژمن دی چې د هېواد د مدارسو او ښوونځيو زده‌کوونکو ته لاډېرې تعليمي آسانتياوې برابرې کړي چې په دې برخه کې هر اړخيزې هڅې روانې دي.

په همدې حال کې د ديني او عصري علومو برخه کې د کانکور آزموينې دوو تنو مخکښو زده کوونکو هر يو احمد فيصل او سيدموسی په خپلو خبرو کې، د پوهنې وزارت او نورو اړوندو ادارو له مشرانو مننه وکړه او د کانکور په آزموينه کې يې د خپل برياليتوب راز استقامت، شپه او ورځ هڅې او د کورنيو او ښوونکو ملاتړ وباله.

په دې غونډه کې هغه ستاينليکونه او ډالۍ چې د پوهنې وزارت لخوا د کانکور آزموينې ۱۰ تنو ممتازه زده‌کوونکو ته په پام کې نيول شوي وې، د پوهنې وزارت د محترم مشرتابه له لوري پر هغوی ووېشل شوې.

غونډه د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې د معين محترم الحاج مولوي سخاءالله «سعيد» له لوري د خير او فلاح د دعائيې په لوستلو سره پای ته ورسېده.

# افتتاح یک باب مکتب ابتدائیه به هزینه ۲۲ میلیون افغانی در ولایت فاریاب

تعمیر مکتب ابتدائیه ایتی اوروق در ولسوالی المار ولایت فاریاب طی محفلی با اشتراک مسئولان معارف و ادارات محلی، علماء کرام و نمایندگان مردم ولایت یاد شده افتتاح و به بهره داری سپرده شد.

مسئولان معارف ولایت فاریاب میگویند مکتب یاد شده دارای ۱۳ صنف درسی، یک اتاق اداری با سایر تأسیسات ضروری آن می باشد که مبلغ ۲۲ میلیون افغانی هزینه برداشته و مصارف آن از سوی یکی از نهاد های همکار با معارف تمویل شده است که برای صدها تن شاگردان زمینه آموزش در فضای مناسب فراهم گردیده است.

محترم الحاج مولوی حمیدالله ارشاد رئیس معارف ولایت فاریاب طی صحبتی اعمار ساختمان مکتب مذکور را گامی مهم بر بهبود وضعیت تعلیمی و ایجاد محیط مناسب آموزشی برای شاگردان در آن ولایت عنوان نموده از مسئولان و شاگردان مکتب خواست تا در قسمت نگهداری، حفظ و مراقبت تعمیر مکتب توجه جدی نمایند.

همچنان مسئولان سایر ادارات محلی در ولایت فاریاب نیز پیرامون موضوع سخنرانی نمودند و ساخت این مکتب را گامی مهم در راستای پیشرفت علم و دانش در این ولایت دانست. در ادامه یک تن از بزرگان قوم نیز به نمایندگی از اهالی قریه ایتی اوروق در رابطه به موضوع صحبت نموده از توجه و اهتمام رهبری وزارت معارف و مقام آن ولایت به نیکویی یاد آور شده، ابراز قدردانی نمود.



# په میدان وردګ ولایت کې د ۱۰ بابه ښوونځیو بیارغوني چارې پیل شوې

د ميدان وردګ ولايت په نرخ، چک، سيدآباد او دايميرداد ولسواليو کې د ۲۱.۷ مېليونه افغانيو په لګښت د ۱۰ بابه ښوونځيو بيارغونې چارې، د د ياد ولايت د پوهنې رئيس او چارواکو په حضور کې پيل شوې.

د ميدان وردګ ولايت د پوهنې رئيس محترم مولوي محمد عثمان حريت د يادو پروژو د پرانيستلو پر مهال وويل: دغه پروژې له پوهنې سره د يوې همکارې ادارې په مالي ملاتړ پلي کېږي، چې پکې احاطوي دېوالونه، د پياده روونو ترميم، د ودانيو رنګول، د څښاک پاکو اوبو چمتو کول او نور اړين ملحقات شامل دي.

هغه زياته کړه: دپوهنې وزارت تل هڅه کوي چې د هېواد د ماشومانو لپاره خوندي او معياري تعليمي چاپېريال چمتو کړي؛ ترڅو په تعليمي مرکزونو کې د زده‌کړې او روزنې کيفيت لا لوړ شي.

د يادو سيمو اوسېدونکو او زده کوونکو هم د يادو پروژو له پيلېدو خوښي څرګنده کړه او وې ويل چې د ښوونځيو په ترميم سره به دويته د زده کړې مناسب او خوندي چاپېريال برابر شي چې دا چاره کولای شي د زده کړو کيفيت لا لوړ کړي.

د يو بل خبر له مخې د ميدان وردک ولايت د پوهنې رياست د معلوماتو په اساس د ښوونځيو شوراګانو د چارواکو، ښوونکو، د زده‌کوونکو والدينو، مشرانو او د سيمې اوسېدونکو د روان لمريز کال په اوږدو کې له ښوونيزو مرکزونو سره ټولټال ۱ مېليون ۴۳۴ زره ۳۴۵ افغانۍ مالي مرسته کړې.

يادې مرستې د ښوونځيو د ترميم، پاکو اوبو او نورو تعليمي آسانتياوو برابرولو او زده کوونکو ته د سالم ښوونيز چاپېريال رامنځته کولو په برخه کې په مصرف رسېدلي دي.

د پوهنې وزارت مشرتابه له ښوونيز نظام سره د هېوادوالو، په ځانګړې توګه د ميدان وردګ ولايت د اوسېدونکو هرکلی او ستاينه کوي.

# باشنده گان ولایت پکتیکا با مکاتب این ولایت بیش از ۴ میلیون افغانی کمک نمودند

بر اساس معلومات ریاست معارف ولایت پکتیکا از آغاز سال جاری خورشیدی تا اکنون، شوراهای مکاتب، مسئولان، معلمان و والدین متعلمان، بزرگان و باشنده گان این ولایت ۴ میلیون و ۳۲۴ هزار و ۱۵۰ افغانی برای مراکز تعلیمی آن ولایت کمک مالی کرده اند.

به گفته محترم مولوی عبدالوکیل خالد، رئیس معارف ولایت پکتیکا، این کمک‌ها در بخش های ترمیمات، تهیه آب صحی آشامیدنی وسایر تسهیلات آموزشی برای بهبود محیط مکاتب صورت گرفته است.

رهبری وزارت معارف، از حمایت های مادی و معنوی هموطنان به ویژه باشنده‌گان معارف دوست ولایت پکتیکا با نظام معارف استقبال و قدردانی می‌کند.




# د کنړ ولايت په ښوونځيو کې د درسي کتابونو د وېش بهير پيل شو

د کنړ ولايت په ۴۴۰ بابه ښوونځيو او ۱۱ بابه ديني مدارسو کې د ۴۰ مېليونه او ۲۰۰ زره افغانيو په ارزښت د کتابونو او درسي موادو د وېش بهير، د کنړ ولايت د پوهنې رياست د مسئولينو په حضور کې پيل شو.

د ياد ولايت د پوهنې رئيس محترم مولوي محب الله حيدري وايي ياد کتابونه او درسي توکي د يوې مرستندويه ادارې لخوا پوهنې رياست ته ورکړل شوي او په وېش سره به يې شاوخوا ۷۹ زره تنه زده‌کوونکي د کتابونو او درسي موادو څخه ګټه تر لاسه کړي.

په مرسته شويو درسي توکو کې خېمې، سپينې تختې، د کتابونو او قرطاسيې کڅوړې او نور اړين توکي شامل دي، چې د ياد ولايت په مرکز او ولسواليو کې به ښوونځيو ته واستول شي.



## در این شماره


د خېښی، ودونو، مصيبتونو او همدا راز له حج او عمرې څخه د راستنېدو پر مهال د ناسمو رواجونو د مخنيوي په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی فرمان — مخ ۲

له مدرسې او ښوونځي تر پوهنتونه د فردي ودې سفر — مخ ۳

برگزاری سیمینار برای مسئولان مکاتب ولایت جوزجان — مخ ۳

# د خېښۍ، ودونو، مصيبتونو او همدا راز له حج او عمرې څخه د راستنېدو پر مهال د ناسمو رواجونو د مخنيوي په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی فرمان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

الحمدلله ربِّ الْعٰلمين والصّلوٰة والسّلام علٰی سيّد المُرسلين و علٰی آله و أصحابه أجمعين.

د الله تعالی دين چې خاتم النبيين حضرت محمد صلی الله عليه وسلم انسانانو ته رسولی او بيان کړی دی، د دنيا او آخرت هر ډول نېکمرغي، ښېرازي او خوښي پکې نغښتې ده، چې عملي کولو سره يې يقيناً د انسانانو ټولې ستونزې حل او د ژوند په هره مرحله کې يې له بې ساري آسانتياوو څخه برخمن وي، الله تعالی ته خپل دين خوښ دی او خپلو بندګانو ته يې د مهربانۍ له مخې د فکر، تدبر او عملي کولو بلنه ورکړې ده او د ژوند په ټولو ساحو کې د دين عملي کولو لپاره يې حضرت محمد صلی الله عليه وسلم نمونه ګرځولی دی او د هر هغه څه چې نبي صلی الله عليه وسلم امت ته وړاندې کړي دي د عملي کولو او له هر هغه څه څخه چې منع کړي يې دي د ځان ساتلو حکم يې کړی دی.

لکه څنګه چې الله جل جلاله په لاندې آيتونو کې فرمايلي دي: (لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ...) (الأحزاب: ۲۱)

ژباړه: خامخا په تحقيق سره دی تاسو لره په (کار) د رسول الله کې اقتداء غوره نېکه (کابلی تفسير)

همداراز الله جل جلاله فرمايلي دي: (وَما آتاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَما نَهاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا) (الحشر، آيت: ۷).

ژباړه: او هغه څه چې درکړي تاسې ته رسول (د الله)، نو واخلئ هغه؛ او هغه څه چې منع کوي (رسول الله) تاسې له هغه څخه، نو بېرته شئ (مه يې غواړئ) (کابلی تفسير)

بله دا؛ هر هغه څه چې په دين کې نه وي، رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه مردود او باطل ګرځولي. لکه څنګه چې له حضرت عائشې رضي الله تعالی عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ. رواه مسلم فی صحيحه، د حديث شمېره (۳۲۴۳).

ژباړه: چا چي داسې يو عمل وکړ چې زموږ په دين کې نه وي، هغه مردود او باطل دی.

له حضرت شعبي رحمة الله تعالی څخه روايت دی چې حضرت عمر بن الخطاب رضي الله تعالی عنه وفرمايل: ياآيهاالناس رُدُّوا الجهالاتِ إلی السنةِ. رواه البيهقي في السنن الکبری، مسلسله شمېره (۱۵۳۲۲).

ژباړه: ای خلکو! جاهلانه (د سنتو خلاف) طريقې سنتو ته واړوئ (د سمون کوشش يې وکړئ.)

پورته آيتونو، حديث شريف او مبارک اثر ته په کتو، اسلامي امارت غواړي چې د ژوند په ټولو ساحو کې د سنت خلاف طريقې سنت ته واړوي، بناءً دا چې؛ نکاح (واده کول) سنت ده؛ خو متأسفانه زموږ په ټولنه کې له دغه شرعي او مسنون عمل سره ناسم او تاواني رواجونه تر دې حده ګډ شوي چې خلک يې نه يوازې په دنيوي لحاظ له ملا ماتوونکو مالي زيانونو سره مخ کړي؛ بلکې په ديني لحاظ هم ډېر منکرات پکې ترسره کېږي چې د ځو مواردو يې دلته د اصلاح او مخنيوي په موخه يادونه کېږي:

**په مهرونو کې زياتوالی غوره کار نه دی :**

شريعت، په ودونو کي د آسانتيا او له درنو مصارفو څخه د ډډې کولو ترغيب ورکوي.

له حضرت عائشې رضي الله تعالی عنها څخه روايت دی چې، رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي: «إِنَّ أَعْظَمَ النِّكَاحِ بَرَكَةً أَيْسَرُهُ مُؤُونَةً» مسند أحمد(۷۵/۴۱) رقم الحديث (۲۴۵۲۹)، مُسْنَدُ الصِّدِّيقَةِ عَائِشَةَ بِنْتِ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا

ژباړه: په تحقيق سره، ډېره برکتي نکاح هغه ده چې لګښت يې لږ وي.

په يو بل حديث شريف کي راځي:

"تَيَاسَرُوا فِي الصَّدَاقِ، إِنَّ الرَّجُلَ يُعْطِي الْمَرْأَةَ حَتَّى يَبْقَى ذَلِكَ فِي نَفْسِهِ عَلَيْهَا حَسِيكَةً..." مصنف عبدالرزاق الصنعانی (۱۷۴/۶)، رقم الحديث (۱۰۳۹۸).

ژباړه: په مهر کې له يو بل سره آسانی کوئ (يعنې لږ مهر ټاکئ) ځکه کله نارينه، ښځې ته دومره مهر ورکړي چې له امله يې له هغې ښځې سره په زړه کې کينه (نفرت) پيدا شي.

حضرت عمر رضي الله عنه فرمايلي دي:

أَلاَ لاَ تُغَالُوا صَدُقَةَ النِّسَاءِ، فَإِنَّهَا لَوْ كَانَتْ مَكْرُمَةً فِي الدُّنْيَا، أَوْ تَقْوَى عِنْدَ اللهِ لَكَانَ أَوْلاَكُمْ بِهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

صحيح سنن أبي داود، باب الصداق، برقم : (۱۸۳۴).

ژباړه: خبردار! د ښځو مهرونه ډېر مه زياتوئ؛ ځکه که د مهر زياتوالی دنيوي عزت او يا د الله عزوجل په نزد تقوی وای، نو نبي صلی الله عليه وسلم يې تر تاسو زيات مستحق و.

له يادو او ځينو نورو مبارکو حديثونو څخه په استدلال سره، فقهاء کرامو رحمة الله تعالی

# فرمان عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی در مورد جلوگيری از رواج‌های نادرست هنگام خويشی عروسی ها، مصيبت ها و همچنان بازگشت از حج و عمره

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

الحمدلله ربِّ الْعٰلمين والصّلوٰة والسّلام علٰی سيّد المُرسلين و علٰی آله و أصحابه أجمعين.

دين الله تعالی که خاتم النبيين حضرت محمد صلی الله عليه وسلم به انسان ها رسانده و بيان کرده است، هر نوع نيکبختی، آسايش و خوشی دنيا و آخرت در آن نهفته است که با عملی کردن آن، يقيناً تمام مشکلات انسان ها حل و در هر مرحلهٔ زندگی از سهولت‌های بی‌نظير بهره مند می باشند، الله تعالی دين خود را دوست دارد و از روی مهربانی بندگان خويش را به تفکر، تدبر و عملی کردن آن دعوت نموده است و جهت عملی کردن دين در تمام عرصه های زندگی، محمد صلی‌الله عليه وسلم را الگو قرار داده است و هرآنچه که نبی صلی الله عليه وسلم به امت عرضه کرده است، به عملی کردن و هرآنچه که از آن منع کرده است به اجتناب از آن، حکم نموده است.

چنانچه الله جل جلاله در آيات ذيل فرموده است: (لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ...) (الأحزاب: ۲۱)

ترجمه: هر آئينه به تحقيق است برای شما در (کار) رسول الله اقتداء نيک بهتر. (تفسير کابلی)

همچنان الله جل جلاله فرموده اند: (وَما آتاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَما نَهاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا) (الحشر، آيت: ۷).

ترجمه: و آنچه که داده به شما رسول (الله)، پس بگيريد آنرا؛ و آنچه که منع می کند شما را (رسول الله) از آن، پس باز ايستيد (طلبش نکنيد). (تفسير کابلی)

ديگر اينکه؛ هر آنچه که در دين نباشد، رسول الله صلی الله عليه وسلم آنرا مردود و باطل گردانيده است. چنانچه از حضرت عايشه رضی الله عنها روايت است که رسول الله صلی الله عليه وسلم فرموده اند: مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ.( رواه مسلم فی صحيحه). حديث شماره (۳۲۴۳).

ترجمه: شخصی که عملی را انجام داد که در دين ما نباشد، آن مردود و باطل است.

از حضرت شعبي رحمه الله روايت است که حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه فرموده است: ياآيهاالناس رُدُّوا الجهالاتِ إلی السنةِ. رواه البيهقي في السنن الکبری، شماره مسلسل(۱۵۳۲۲).

ترجمه: ای مردم! طُرق جاهلانه (خلاف سنت) را به سنت برگردانيد (تلاش اصلاح آنرا کنيد).

با توجه به آيات، حديث شريف و اثر مبارک فوق، امارت اسلامی می‌خواهد که در تمام عرصه های زندگی طُرق خلاف سنت را به سنت برگرداند.

بناءً اينکه؛ نکاح (عروسی کردن) سنت است؛ اما متأسفانه در جامعه ما رواج نادرست و زيان‌آور با اين عمل شرعی و مسنون به حدی آميخته شده است که مردم را نه تنها از لحاظ دنيوی با زيان‌های مالی کمرشکن مواجه کرده، بلکه از لحاظ دينی نيز منکرات زياد در آن انجام می‌شود که به هدف اصلاح و جلوگيری، چند مورد آن در اينجا ذکر می شود:

**زيادت در مهرها کار شايسته نيست:**

شريعت، در عروسی ها ترغيب آسانی و اجتناب از مصارف گزاف را می دهد.

از حضرت عايشه رضی الله عنها روايت است که رسول الله صلی الله عليه وسلم فرموده است: «إِنَّ أَعْظَمَ النِّكَاحِ بَرَكَةً أَيْسَرُهُ مُؤُونَةً» مسند أحمد(۷۵/۴۱) رقم الحديث (۲۴۵۲۹)، مُسْنَدُ الصِّدِّيقَةِ عَائِشَةَ بِنْتِ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا

ترجمه: به تحقيق، با برکت‌ترين نکاح آن است که هزينه‌اش کم باشد.

در حديث شريف ديگر می آيد:

"تَيَاسَرُوا فِي الصَّدَاقِ، إِنَّ الرَّجُلَ يُعْطِي الْمَرْأَةَ حَتَّى يَبْقَى ذَلِكَ فِي نَفْسِهِ عَلَيْهَا حَسِيكَةً..." مصنف عبدالرزاق الصنعانی (۱۷۴/۶)، رقم الحديث (۱۰۳۹۸).

ترجمه: با يکديگر در مهر آسانی کنيد (يعنی مهر کم تعيين کنيد)؛ زيرا گاهی مرد به زن آن قدر مهر بدهد که به سبب آن در دلش با آن زن کينه (نفرت) پيدا شود.

حضرت عمر رضی الله عنه فرموده است:

أَلاَ لاَ تُغَالُوا صَدُقَةَ النِّسَاءِ، فَإِنَّهَا لَوْ كَانَتْ مَكْرُمَةً فِي الدُّنْيَا، أَوْ تَقْوَى عِنْدَاللهِ لَكَانَ أَوْلاَكُمْ بِهَا النَّبِيُّ صَلَّىاللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. صحيح سنن أبي داود، باب الصداق، برقم : (۱۸۳۴).

ترجمه: آگاه باشيد! مهرهای زنان را بسيار زياد نکنيد؛ زيرا اگر زيادت مهر، عزت دنيوی يا تقوی در نزد الله عزوجل می بود، پس نبی صلی‌الله عليه وسلم بيشتر از شما مستحق آن بود.

با استدلال از احاديث مبارک متذکره و برخی ديگر، فقهای کرام رحمة‌الله تعالی عليهم تخفيف در مهر را مسنون و مرغوب دانسته اند.

سرمقاله

# له جومات، مدرسې او ښوونځي تر پوهنتونه د زده‌کړې او فردي ودې سفر

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلَوٰةُ وَالسَّلامُ عَلَى سَيِّدِالمُرسَلِينَ وَعَلَى آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ

هر فرد خپل ژوند له یو مهم پړاوه یعنې جومات، مدرسې او ښوونځي پیلوي، که څه هم چې دا حرکت ساده ښکاري خو دا هماغه لومړی ګام دی چې د انسان ذهن ته بنسټ ایښودل کېږي. جومات، مدرسه او ښوونځی د انسان د اخلاقو، پوهې، فکر، هڅې او امیدونو لومړی زانګو ده. دلته طالب العلمان او زده‌کوونکي یوازې د حروفو پېژندل نه، بلکې د ژوند لوړو موخو ته د رسېدو په لور حرکت پیلوي. د مدرسې او ښوونځي تر بشپړولو وروسته، کانکور آزموینه هغه پړاو دی چې د طالب العلمانو او زده کوونکو ټول تېر زحمات په کې ارزول کېږي. هر کال زرګونه ځوانان په کانکور کې ګډون کوي، د کانکور آزموینه یوازې یوه علمي سیالي نه ده؛ بلکې دا د ژوند د یو مهم بدلون دروازه ده. دا دروازه ټاکي چې څوک به د علم او پوهې له لارې د خپل ژوند، خپلې کورنۍ او خپلې ټولنې برخلیک بدلوي. دکانکور بریا یوازې شخصي ویاړ نه، بلکې زده کوونکو ته دا پوښتنه پیدا کوي چې "اوس زه باید څه وکړم؟" پوهنتون ته بریالي شوي طالب العلمان او زده‌کوونکي د ټولنې د راتلونکي جوړونکي دي. له همدې امله، د دوی مسئولیت یوازې په لوست سره پای ته نه رسیږي؛ هغوی باید له خپل علم څخه د هېواد او ټولنې د سوکالۍ او آبادۍ لپاره کار واخلي. بل خوا، پوهنتون چې د زده‌کړې او فکري ودې لوړه مرحله ده، باید متخصصین او عالمان ټولنې ته وړاندې کړي، اسلامپال او هېوادپال ځوانان وروزي. نن سبا، موږ پوهنتونو ته یوازې محصلین نه ورلېږو، بلکې تمه لرو چې پوهنتونونه ملت او ټولنې ته متخصصین، مصلحین او خدمتګار ځوانان وړاندې کړي. دا تمه یوازې هغه وخت پوره کېدای شي چې طالب العلمان او زده‌کوونکي له مدرسې او ښوونځي نه تر پوهنتونه پورې په یوه منظم، سالم او اغیزمن چاپېریال کې روزل شوي وي. چې لله الحمد دا چاره په هېواد کې د اسلامي امارت له واکمنېدو سره تر ډېره سرته رسېدلې او د هېواد بچیانو ته په دیني او عصري برخه کې د زده کړې ښه زمینه برابره شوې، همدارنګه د ښوونیز نظام د کیفیت لا ښه والي په برخه کې ډېر کار شوی او د پوهنې وزارت له لوري دا هڅې نورې هم په چټکۍ روانې دي.

له جومات، مدرسې او ښوونځي تر پوهنتونه پورې سفر، یوازې د یو فرد شخصي پرمختګ نه، بلکې دا د ټول ملت د برخلیک یوه اوږده، خو مهمه لاره ده. د زده‌کړې دا درې پړاوونه باید د حکومت، ټولنې، کورنیو او په ځانګړې توګه طالب العلمانو او زده‌کوونکو له‌خوا وپېژندل شي، پالنه یې وشي، او ارزښت ورکړل شي. ځکه دلته د یوه فرد راتلونکی نه، بلکې د یوه نسل او یوه ملت راتلونکی پرې تړلی دی.

په پای کې د پوهنې وزارت مشرتابه په کانکور آزموینه کې ټولو بریالیو زده کوونکو ته د زړه له کومې مبارکي وايي او د الله جل جلاله له دربار څخه ورته په راتلونکې کې د لا زیاتو بریالیتوبونو غوښتنه کوي او له دوی غواړي چې په راتلونکې کې هم د علم او تخصص لاس ته راوړلو لپاره هڅه وکړي تر څو مو ګران هېواد افغانستان د پرمختګ ته لوړو څوکو ورسوو او د خپل ولس خدمت په پوره اخلاص تر سره کړو.

علیهم په مهر کې تخفیف مسنون او مرغوب بللی دی.

ولکن یسن تخفیف الصداق و عدم المغالاة في المهور، لقوله صلى الله علیه وسلم:

((ان اعظم النكاح بركة أیسره مؤونة)) و في روایة ((ان أعظم النساء بركة أیسرهن صداقا)) وروى أبوداود و صححه الحكام عن عقبة بن عامرحدیث: ((خیر الصداق أیسره)). و الحكمة من منع المغالاة في المهور واضحة وهي تیسیر الزواج للشباب، حتى لاینصرفوا عنه، فتقع مفاسد خلقیة و اجتماعیة متعددة، وقد ورد في خطاب عمر السابق : ((وان الرجل لیغلي بصدقة امرأته حتى یكون لها عداوة في قلبه)). الفقه الاسلامي وادلته (۶۷۶۴/۹) دارالفكر- سوریة - دمشق

## مهر، د منکوحې ښځې حق دی او بل هېچا ته یې خوړل صحیح نه دي.

مهر، د ښځې حق دی بل هېڅوک حق نه لري چې د هغې له خوښې پرته یې مصرف کړي، تر دې چې فقهاء رحمهم الله تعالی وايي: کوم پلرونه او نیکونه چې د لونو یا لمسیو مهرونه خوري هغوی غاصب او د مهر ضامن دي؛ نو چې پلار او نیکه د مهر په خوړلو غاصب ګڼل کېږي، ورور، تره او نورو خپلوانو ته خو بیخي هېڅ لاره نشته چې د خویندو، وربرونو او یا د نورو خپلوانو نجونو مهرونه وخوري یا یې د هغوی له خوښې پرته مصرف کړي).

فَحَاصِلُهُ: أَنَّ فِي الْمَهْرِ حُقُوقًا ثلاثةً: أَحَدُهُمَا حَقُّ الشَّرْعِ، وَهُوَ أَنْ لَا يَكُونَ أَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ أَوْ مَا يُسَاوِيهَا. وَالثَّانِي حَقُّ الْأَوْلِيَاءِ هُوَ أَن لاَ يَكُونَ اَقَلَ من مهر المِثلِ. و ثَالِثُ حَقَّ لِلْمَرْأَةِ، وَهُوَ كَوْنُهُ مُلْكًا لَهَا، ثُمَّ حَقُّ الشَّرْعِ وَالْأَوْلِيَاءِ مُرَاعًى وَقْتَ الثُّبُوتِ فَقَطْ، فَلَا حَقَّ لَهُمَا حَالَةَ البقاءِ. البحر الرائق (۳/ ۱۴۴) - المَادَّةُ ۹۷): لَا يَجُوزُ لِأَحَدٍ أَنْ يَأْخُذَ مَالَ أَحَدٍ بِلاَ سَبَبٍ شَرْعِيّ) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ (ص: ۲۷)

نعم ان كان الاب یاكل مهور البنات كالفلاحین و الاعراب فالقول بتضمینه اذا مات مجهلا ظاهر؛ لأنه غاصب من أول الأمرلأنه انما قبض المهر لنفسه لا لبنته فلیكن التعول على هذا التفصیل و الله تعالى أعلم ..العقود الدریة في تنقیح الفتاوى الحامدیة (۲/ ٤۷).

إِذَا كَانَ الْأَبُ مِمَّنْ يَأْكُلُ مُهُورَ الْبَنَاتِ كَالْفَلَّاحِينَ وَالْأَعْرَابِ، فَالْقَوْلُ بِتَضْمِينِهِ إِذَا مَاتَ مُجْهَلًا ظَاهِرٌ، لِأَنَّهُ غَاصِبٌ مِنْ أَوَّلِ الْأَمْرِ، لِأَنَّهُ إِنَّمَا قَبَضَ الْمَهْرَ لِنَفْسِهِ لَا لِبِنْتِهِ، فَلْيَكُنِ التَّعَوُّلُ عَلَى هَذَا التَّفْصِيلِ، وَمِثْلُهُ الْجَدُّ كَمَا مَراه. قُرَّةُ عُيُونِ الْأَخْبَارِ لتكملة رد الْمُحْتَارِ عَلَى الدر الْمُخْتَارِ (۸ /٤۸۲).

وَإِنَّمَا يَمْلِكُ الْأَبُ قَبْضَ الصَّدَاقِ بِرِضَاهَا دِلَالَةً، فَيَبْرَأُ الزَّوْجُ بِالدَّفْعِ إِلَيْهِ، وَلِهَذَا لَا يَمْلِكُ مَعَ نَهْيِهَا، وَالْجَدُّ كَالْأَبِ كَمَا فِي الْخَانِيَّةِ... بِخِلَافِ سَائِرِ الْأَوْلِيَاءِ، لَيْسَ لَهُمْ حَقٌّ فِي قَبْضِ مَهْرِهَا بِدُونِ أَمْرِهَا، لِأَنَّهُ...الْبَحْرُ الرَّائِقُ (۳ /۱۱۸)

پلرونه او خپلوان که د مهر له خوړلو راوګرځول شي، مهرونه خپله را کمېږي؛ ځکه نن سبا ډېرې پیسې هغه دي چې د مهر په نوم اخیستل کېږي خو پلار یا نور خپلوان یې خوري او ښځو ته د مهر په نوم ډېرې کمې پیسې ورکوي.

بناءً هغه څو رواجونه چې پر شرعي منعې او اسراف سربېره په لوړه کچه د اقتصادي ستونزو او د اجتماعي او اخلاقي ناخوالو سبب ګرځېدلي دي، چې د افغانستان اسلامي امارت د مرکزي دارالافتاء اړوند د فقهي مجالسو د علماء کرامو، د افغانستان د معتبرو شیوخ عظامو، د اقتصادي کمېسیون د محترمو غړو او د اړوندو وزارتونو او امارتي ادارو د ګډ ګمارل شوي هیئت د استازو له لوري تشخیص شول چې په هکله یې لاندي مراتب منظوروم:

### د واده په اړوندو امورو کي د رعایت وړ ټکي

لومړۍ ماده:

(۱)د بالغې نجلۍ ولي چي اکثره اوقاتو کي د هغې پلار یا ورور وي شرعاً مکلف دی، د هغې د شرعي حقوقو رعایت وکړي.

پاتې برخه په راتلونکو ګڼو کې

ولكن یسن تخفیف الصداق و عدم المغالاة في المهور، لقوله صلى الله علیه وسلم:

((ان اعظم النكاح بركة أیسره مؤونة)) و في روایة ((ان أعظم النساء بركة أیسرهن صداقا)) وروى أبوداود و صححه الحكام عن عقبة بن عامرحدیث: ((خیر الصداق أیسره)). و الحكمة من منع المغالاة في المهور واضحة وهي تیسیر الزواج للشباب، حتى لاینصرفوا عنه، فتقع مفاسد خلقیة و اجتماعیة متعددة، وقد ورد في خطاب عمر السابق : ((وان الرجل لیغلي بصدقة امرأته حتى یكون لها عداوة في قلبه)). الفقه الاسلامي وادلته (۶۷۶۴/۹) دارالفكر- سوریة - دمشق

## مهر، حق زن منکوحه است و خوردن آن به هیچ شخصی صحیح نیست:

مهر حق زن است و هیچ شخصی حق ندارد که آنرا بدون رضایت وی مصرف کند، حتی اینکه فقهاء رحمهم الله تعالی می گویند: پدران و پدر کلان‌هایی‌که مهر دختران یا نواسه ها را می خورند، آنان غاصب و ضامن مهر اند؛ در صورتی‌که پدر و پدر کلان با خوردن مهر غاصب شمرده می شوند، پس به برادر، کاکا و دیگر خویشاوندان قطعاً هیچ راه وجود ندارد که مهرهای خواهران، برادرزاده‌ها و یا دختران خویشاوند دیگری را بخورند یا آنرا بدون رضایت آنان مصرف کنند.

فَحَاصِلُهُ: أَنَّ فِي الْمَهْرِ حُقُوقًا ثلاثةً: أَحَدُهُمَا حَقُّ الشَّرْعِ، وَهُوَ أَنْ لَا يَكُونَ أَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ أَوْ مَا يُسَاوِيهَا. وَالثَّانِي حَقُّ الْأَوْلِيَاءِ هُوَ أَن لاَ يَكُونَ اَقَلَ من مهر المِثلِ. و ثَالِثُ حَقَّ لِلْمَرْأَةِ، وَهُوَ كَوْنُهُ مُلْكًا لَهَا، ثُمَّ حَقُّ الشَّرْعِ وَالْأَوْلِيَاءِ مُرَاعًى وَقْتَ الثُّبُوتِ فَقَطْ، فَلَا حَقَّ لَهُمَا حَالَةَ البقاءِ. البحر الرائق (۳/ ۱۴۴) - المَادَّةُ ۹۷): لَا يَجُوزُ لِأَحَدٍ أَنْ يَأْخُذَ مَالَ أَحَدٍ بِلاَ سَبَبٍ شَرْعِيّ) مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ (ص: ۲۷)

نعم ان كان الاب یاكل مهور البنات كالفلاحین و الاعراب فالقول بتضمینه اذا مات مجهلا ظاهر؛ لأنه غاصب من أول الأمرلأنه انما قبض المهر لنفسه لا لبنته فلیكن التعول على هذا التفصیل والله تعالى أعلم..العقود الدریة في تنقیح الفتاوى الحامدیة (۲/ ٤۷).

إِذَا كَانَ الْأَبُ مِمَّنْ يَأْكُلُ مُهُورَ الْبَنَاتِ كَالْفَلَّاحِينَ وَالْأَعْرَابِ، فَالْقَوْلُ بِتَضْمِينِهِ إِذَا مَاتَ مُجْهَلًا ظَاهِرٌ، لِأَنَّهُ غَاصِبٌ مِنْ أَوَّلِ الْأَمْرِ، لِأَنَّهُ إِنَّمَا قَبَضَ الْمَهْرَ لِنَفْسِهِ لَا لِبِنْتِهِ، فَلْيَكُنِ التَّعَوُّلُ عَلَى هَذَا التَّفْصِيلِ، وَمِثْلُهُ الْجَدُّ كَمَا مَراه. قُرَّةُ عُيُونِ الْأَخْبَارِ لتكملة رد الْمُحْتَارِ عَلَى الدر الْمُخْتَارِ (۸ /٤۸۲).

وَإِنَّمَا يَمْلِكُ الْأَبُ قَبْضَ الصَّدَاقِ بِرِضَاهَا دِلَالَةً، فَيَبْرَأُ الزَّوْجُ بِالدَّفْعِ إِلَيْهِ، وَلِهَذَا لَا يَمْلِكُ مَعَ نَهْيِهَا، وَالْجَدُّ كَالْأَبِ كَمَا فِي الْخَانِيَّةِ... بِخِلَافِ سَائِرِ الْأَوْلِيَاءِ، لَيْسَ لَهُمْ حَقٌّ فِي قَبْضِ مَهْرِهَا بِدُونِ أَمْرِهَا، لِأَنَّهُ...الْبَحْرُ الرَّائِقُ (۳ /۱۱۸)

پدران و خویشاوندان اگر از خوردن مهر منع شوند، مهرها خود به خود کاهش می‌یابد؛ زیرا امروزه پول زیاد آن است که به نام مهر گرفته می‌شود، مگر پدر یا خویشاوندان دیگر آن می خورند و پول بسیار کم را به نام مهر به زنان می دهند.

بناءً تعدادی از رواج هایی که علاوه بر منع شرعی و اسراف، باعث مشکلات اقتصادی و نابسامانی‌های اجتماعی و اخلاقی به سطح بلند شده اند، که از طرف هیئت مشترک متشکل از علمای کرام مجالس فقهی مربوط دارالافتای امارت اسلامی افغانستان، شیوخ عظام معتبر افغانستان، اعضای محترم کمیسیون اقتصادی و نمایندگان وزارت‌ها و ادارات ذیربط امارتی تشخیص شد که در مورد آن مراتب ذیل را منظور می‌دارم:

### نکات قابل رعایت در امور مربوط به عروسی

مادهٔ اول:

(۱) ولی دختر بالغ که اکثر اوقات پدر یا برادر وی می‌باشد، شرعاً مکلف است، حقوق شرعی وی را رعایت نماید.

بقیه در شماره های بعدی

# Marif
Weekly

**کتنپلاوی:** الحاج مولوي شهاب الدین «ثاقب»
مولوي عزیز احمد «ریان»
مفتی حبیب الله «قتاده نوري»
احمد شعیب «حقیقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسیم «عیاذ»
**مسئول مدیر:** سعید «جلال»
**انځور اخیستونکی:** محمد ادریس «نوري»
محمد اشرف «رسولي»

**صفحه آرا :** محمد قسیم «یعقوبي»
**شمیر :** ۳۰۰۰
**پته:** د کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت
**د پوهنې کاروان مینه والو!**
تاسو کولای شئ خپلې لیکنې، وړاندیزونه او نیوکې په لاندې برېښنا لیک او او شمېرې زموږ سره شریکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
**د اړیکې شمېره:** ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 306 /2025


## معرفی رئیس جدید معارف ولایت بغلان




محترم الحاج مولوی صبغت الله وصیل معین مالی و اداری وزارت معارف طی مراسم ویژه ای، محترم مولوی سید حفیظ " معتصم باالله" را به گونه رسمی به حیث رئیس جدید معارف ولایت بغلان معرفی کرد.

وی از خدمات محترم الحاج مولوی محمد نور عزیزی رئیس پیشین معارف ستایش نموده و تلاش های او را قابل قدر دانست. همچنان تأکید کرد که تغییر و تبدیل یکی از اصول اداری است.

در این محفل رئیس جدید معارف از اعتماد رهبری وزارت معارف سپاسگزاری نموده و وعده سپرد که برای بهبود وضعیت هر چه بیشتر روند آموزشی در این ولایت از هیچ گونه سعی و تلاش دریغ نخواهد ورزید.

## تخار ولایت ته د پوهنې وزارت د مالي او ادارې معین سفر

د پوهنې وزارت مالي او اداري معین محترم الحاج مولوي صبغت الله وصیل د تخار ولایت د پوهنې رئیس په ملتیا د یاد ولایت رستاق ولسوالۍ ته سفر وکړ.
نوموړي د پوهنې وزارت د سرپرست پیغام ښوونکو، کارکوونکو او زده کوونکو ته ورساوه او ټینګار یې وکړ چې تعلیمي بهیر باید د پوهنې وزارت د پالیسیو او د امیر المؤمنین ( حفظه الله ) د فرمانونو سره سم تطبیق شي.

## د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د کړنو اوونیز راپور

د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد د رئیس محترم مولوي جمعه خان "سروري" په لارښوونه، تېره اونۍ د یاد ریاست یو ځانګړي ټیم، د کابل ښار پنځمي او یوولسمي تعلیمي ناحیو اړوندو ۲۱ بابه رسمي او خصوصي ښوونځیو له مدیرانو او مسئولینو سره وکتل.
په یادو لیدنو کې د پوهنې وزارت د مقام د هدایت پر بنسټ، د اسلامي اصولو او افغاني دودونو په رڼا کې د ښوونځیو د ځانګړي یونیفورم پلي کېدو په تړاو سپارښتنې وشوې.
همدارنګه د پورته ذکر شویو ښوونځیو آمرینو او ښوونکو له یادو سپارښتنو تود هرکلی وکړ او دا یې د خپلو زده کوونکو سالمې ښوونې-روزنې، نظم او ارزښتونو د پیاوړتیا لپاره یو مهم او مثبت ګام وباله.
همداراز د پوهنې وزارت مرکزي هستې ټولو کارکوونکو ته د دیني درسونو لړۍ هم په نورمال ډول روانه وه.
په ورته مهال د ولایتونو له پوهنې ریاستونو او د کابل ښار پوهنې ریاست څخه ترلاسه شوي راپورونه ښیي چې په تېره اونۍ کې له تاکل شوي مهالوېش سره سم، د ښوونیزو مرکزونو منسوبینو ته د دعوت او ارشاد درسونو دوام درلود؛ لکه د پخوا په څېر، په مرکزي هسته کې د یو شمېر ریاستونو د کارکوونکو وضعیت له نږدې وارزول شو او هغوی ته اړینې سپارښتنې وشوې.

## سنگ تهداب یک باب مکتب ابتدائیه در ولایت بدخشان گذاشته شد




مکتب ابتدائیه قاری عبدالقدوس، در قریه افچها مربوط ولسوالی یاوان ولایت بدخشان با حضور مسئولان ریاست معارف و دیگر ادارات محلی، بزرگان قومی تهداب گذاری شد.
محترم الحاج مولوی محمد طاهر جواد رئیس معارف ولایت بدخشان در سخنانی با اشاره به فراهم آوری سهولت ها جهت تعلیم و تربیه اولاد وطن، گفت: این مکتب به منظور فراهم آوری زمینه آموزش برای اطفال قریه افچها ساخته می شود که هزینه ساخت آن به کمک و همکاری مستقیم مردم محل تأمین خواهد شد.
نامبرده تأکید کرد که تعلیم و تربیه، نیاز حیاتی نسل های آینده بوده و تطبیق این پروژه با همکاری مردم نشان دهنده احساس مسئولیت و تعهد ساکنان محل به آینده فرزندان شان می‌باشد که از آن به نیکویی یاد آور شد.
موصوف افزود: ما تلاش می کنیم تا سایر لوازم، تجهیزات و نیازمندی های این مکتب را به کمک وزارت معارف و نهادهای همکار تأمین نماییم.

## د فاریاب ولایت د ښوونکو مسلکي پراختیا علمي غونډو لپاره سیمینار پیل شو



د پوهنې وزارت د روزونکو له لوري، د فاریاب ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د ښوونکو مسلکي پراختیا د ۱۲۲ تنو علمي غونډو لپاره د "اغېزمن تدریس او زده کړې" تر سرلیک لاندې د ورتیا لوړولو سیمینار پیل شو.
د فاریاب پوهنې رئیس محترم مولوي حمیدالله ارشاد په خپلو خبرو کې، د دې سیمینار منځپانګه اغېزمنه وبلله او ویې ویل: د سیمینارونو او علمي غونډو جوړول به د ښوونکو تدریسي کچې معیار لا زیات لوړ کړي او د تدریس په میتود کې به مثبت بدلونونه را منځ ته کړي، چې بې له شکه به د پام وړ مثبتې پایلې ولري.
همداراز د یاد سیمینار ګډونوالو هم یاد سیمینار مثبت و ارزولو او په راتلونکي کې یې د ورته علمي سیمینارو پر دوام ټینګار وکړ.

## برگزاری سیمینار برای مسئولان مکاتب ولایت جوزجان

ریاست معارف ولایت جوزجان سیمینار شش روزه‌ای را به هدف بلند بردن سطح آگاهی مسلکی مسئولان، معلمان و اعضای شورای مکاتب مرکز و ولسوالی‌های آن ولایت راه‌اندازی کرد.
محترم الحاج مولوی لعل جان راشد رئیس معارف ولایت جوزجان گفت که در این برنامه آموزشی، ۱۴۳ تن آمرین، مدیران، سرمعلمین، ۶۰۰ تن معلمان و ۵۰۰ تن از اعضای شورای مکاتب مرکز و ولسوالی‌های آن ولایت شامل میباشد.
رئیس معارف جوزجان هدف از برگزاری این سیمینار را بلند بردن سطح دانش مسلکی مسئولان امور تعلیمی و بهبود روند تدریس عنوان نمود. نامبرده تأکید کرد که برگزاری این سیمینارها بخشی از برنامه های وزارت معارف برای بلند بردن کیفیت آموزش مراکز تعلیمی در کشور می باشد.
اشتراک کننده گان نیز برگزاری این چنین سیمینار ها را برای بلند بردن سطحی اگاهی معلمان مکاتب مهم دانسته و بر ادامه آن تاکید ورزید.

## په غزني ولایت کې د یوې دیني دمدرسې ودانۍ پرانیستل شوه



د غزني ولایت په قره باغ ولسوالۍ کې د عبدالله بن عمر «رضی الله تعالی عنه» دیني مدرسې نوې ودانۍ د یو مېلیون افغانیو په لګښت د ځایي خلکو په مالي مرسته جوړه او د یاد ولایت پوهنې مسئولینو په حضور کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.
یاده مدرسه چې درسي خونې او د اوبو رسولو یوه شبکه لري، په یو پوړ کې د قره‌باغ ولسوالۍ په فتح خان کلي کې جوړه شوې ده.
د ویلو ده چې د مدرسې د دغې نوې ودانۍ په بشپړېدو سره لسګونو طلابو لپاره مناسب تعلیمي چاپېریال برابر شوی دی.
د پوهنې وزارت مشرتابه له ښوونیز نظام سره د هېوادوالو، په ځانګړې توګه د غزني ولایت علم پرووره خلکو له مرستې هرکلی او ستاینه کوي.

**گرانو هېوادوالو!**
**د علم او پوهې پراختیا او غښتلتیا ستاسو د هڅو او نه ستړي کېدونکو هلو ځلو په پایله کې ترلاسه کېږي.**